ډاکټر ګل مر جان منګل ۲۰۱۰/۱۲/۲۱

# افغانستان له ۲۰۱۴ م کال څخه وروسته

څو اونۍ وړاندې په لیزبون کې د ناټو غونډې او تازه په سپینه ماڼۍ کې د امریکا ولسمشر اوبامه پدې اعتراف وکړ چې په افغانستان کې یې ماتې خوړلې ده او اوس ددې وخت رارسیدلی دی چې خپله کمبله له افغانستان څخه ټوله کړي او تر ۲۰۱۴ کاله پورې له یاد شوې هیواد څخه ووزي.
پدې باندې موږ افغانان له وړاندې پوهیدو چې دا ورځ به راځي چې ناټو او په سر کې امریکا به افغانستان پرېږدي دا ځکه چې ناټو له وارسا څخه زورروه نه ده چې پدې اړه څو میاشت مخکې ما هم یوه مقاله ( د ناټو لرلید په افغانستان کې)) تر عنوان لاندې لیکلې وه ، چې په بینوا سایت کې چاپ شوې وو

ګرانو افغانانو تاریخ (۹۲م کال) بیا تکراریږي هغه داچې کله روسان له افغانستان څخه ووتل، د کابل حکومت څو کاله دوام وکړ چې بلاخره د د موکراتیک ګوند د خپل منځنیو اختلافاتو په نتیجه کې د هغه وخت د مجاهیدینو سره ائتلافونه وشول او بلاخره د کابل حکومت سقوط وکړ او ورپسې خو ټول تاریخ تاسو ته معلوم دی چې زموږ په هیواد کې څه وو چې ونه شول.
که چیرې افغانان د خپل سرنوشت په هکله چې له ۲۰۱۴م کال څخه به شاته پیښیږي ښه غور ونکړي نو د افغنستان او افغانانو راتلونکې به ډیره خرابه او خطرناکه وي. دا ځکه چې د افغانستان لپاره داخلي او خارجي شرایطو له ۹۲ کاله راپدې خوا ډیر تغییر کړی دی.
اول دا چې په افغانستان کې خو قانون اصلاً وجود نه لري، کله چې قانون وجود ونه لري نو هلته به د یو دولت شتوالی څه معنی ولري؟ دا پدې معنی چې په افغانستان کې تش په نوم دولت دی چې هغه لویدیځ والو د خپلو اولسنو د غولولو لپاره د یوې نانزکې (ګوډۍ) په شان په لاس کې نیولی دی، چې نه پکښې سپاه شته او نه څه کولای شي.
همدا رنګه د کرزي په حکومت او خپله کرزي د هیڅ کار کولو او حکومتداری وړتیا نه لري، بیله له ورځې تیرولو او هغه هم ددې لپاره چې څنګه د اولس جیبونه او د ملت مال لوټ کړي. او څوک هم چې په حکومتي چوکۍ ناست دي په ځان، وطن او اولس باندې ایمان نه لري، او دا ویره ورسره ده چې که نن لدې چوکۍ لرې شي نو څه به کوي نو د سبا ورځې د بې باورۍ له ویرې چې، ده ټول مسؤولیت د کرزي او د هغه د حکومت په غاړه دی، په ناروا پیسې پیدا کوي چې وړې پاتې نه شي. نو کله چې ناټو او امریکا په ۲۰۱۴ کال کې له افغانستان څخه ووځي یو عام تام چور به ګډ شي دا ځکه چې ولس ته به هم شرایط برابر شي.
دوهم دا چې د افغانستان ګاونډي حکومتونه لکه پاکستان، ایران، چین، تاجکستان، اوزبکستان او همدارنګه نور هیوادونه لکه روسیه، ترکیه، هند او سعودي عربستان د کرزي د حکومت په شان لاس تر زنې ندي ناست او له یوې ورځې نه بلې ورځې ته یې د نفوذ ساحه ډیریږي او زموږ د ګران افغانستان ژبه، شتمني، کلتور او مذهب د خپلې ولکې لاندې په داسې حال کې لاندې کوي چې نوموړي هیواد (افغانستان) د زور ازمویلو ډګر هم کاروي، او خپل منځنۍ دوشمنی د د یو تعداد هغو افغانانو په مټو چې یې په پیسو اخیستی دي په زور یو بل ته څرګندوي. چې غواړم څو بلګې یې هیوادوالو ته ورپه یاد کړم.
ایران په خپل ټول قوت هڅه کوي چې په لومړي سر کې د افغانانو کلتور او ژبه تر خپل کلتور او ژبې لاندې کړي او ددې لپاره یې په افغانستان کې یوه ډیره قوي لاره په کار اچولې ده چې هغه عبارت په میډیا (راډیو، ټلویزیون، ورځپانو او انترنیټ) باندې تأثیر اچول دي چې دا کار یې ډیره ښه نتیجه هم ورکړې ده.
د یوه هیواد په میډیا نفوذ د همهغه هیواد په ولس او ملک نفوذ دی، دا ځکه چې له همدغې لارې څخه یو هیواد په آسانۍ سره تر خپل نفوذ لاندې راتللی شي تر څو شتمني یې تر ګوتو شي.
په ورته کار باندې ترکیه هم لاس پورې کړی دی چې غواړي ترکي کلتور او ترکي ژبه زموږ په ګران هیواد افغانستان کې رواج کړي چې د ایران په شان هدف تر لاسه کړي.
له پاکستان څخه به څه ګیله کوو ځکه هغه د چا خبره چې اړماتې دشمن دی زموږ هیواد به هیڅکله هم په آرام پرې نه ږدي.
هند د افغانانو په خاطر نه بلکې د کشمیر د ځانته کولو په خاطر د پاکستان سره زموږ په هیواد کې زور ازمویې کوي چې زیان یې هم موږ افغانانو ته رسیږي.
روسیه خو افغانستان د پلار او نیکه د نفوذ سیمه بولي او د ځان لپاره یې یوه ښه اړه (دیوال) ده، او که دا دیوال مات شو نو د روسې ګټې به په پخوانی شوروی هیوادونو لکه تاجکستان، اوزبکستان او ترګمنستان کې د خطر سره



افغان جرمن آنلاین تاسو په درنښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

مخامخ شی چی دا کار هیڅ کله هم د روسانو لپاره د منلو وړ ندی. نو ددی لپاره یی په افغانستان کی هر وخت مداخله کړیده او په راتلونکی کی به کله هم له مداخلی لاس ونه خلی.

نو کله چی ناټو له افغانستان څخه ووزی زموږ ګاونډیان به په افغانستان باندی د لیوانو په شان له هری خوا حملی وکړی او زموږ هیواد به پخی، پخی کړی او په ټوټو به یی سره ووشی. دا ځکه چی شرایط نظر ۱۹۹۲م ته اوس ډیر توپیر پدی لری چی اوس په داخیل د هیواد کی هم ځینی کړی شته چی د فیدرالیزه (یعنی ټوټه کیدل) غواړی او ددی شنی مصنوعی دیموکراسی په شتوالی کی چی غربیانو پر افغانستان تحمیله کړی ده یاد و شویو کړیو د افغانستان د جداکولو لپاره ډیر کار کړی دی، نو د ټوټه کیدو ویره یی هم ډیره ده.

ددی خطرونو مخنیوی به څنګه کوو؟؟

لومړی د کرزی او د هغه حکومت لپاره په کاری ده چی اول خپل ځانونه اصلاح کړی او ورپسی خپله اداره او صفوف له هر ډول فساد څخه پاک کړی، د قانون حاکمیت له ارک څخه شروع تر کلیو او بانډو پوری ورسوی او هیڅ چا ته تر قانون برتری ورنکړی. همدارنګه په اولس کی د وطن او یوال روحیه راژوندی کړی. همدارنګه حکومت د ګاونډیو په ځیر وځری او مخنیوی یی وکړی، او هغه چاته چی د پردیو لپاره د خپل ولس او هیواد ګټی قربانوی او د بیګاناګانو نوکری کوی سخته جزا ورکړی. دا هغه څه دی چی د هیواد د یوالی په ساتلو کی مرسته کوی. نو که چیری په ۲۰۱۴ کال کی امریکا او ناټو له افغانستان څخه ووزی زموږ هیواد به له عمومی لوټ څخه خوندی وی.

دوهم دا چی په داخیل او له هیواد څخه د باندی افغانانو ته پکار ده چی خپل منځنی اختلافونه یوی خواته کړی او پدی فکر وکړی چی څنګه خپل هیواد له متوجی خطرونو څخه ژغورلی شو سره یو شی.او همدارنګه پدی د زړه له خلاصه کار وشی چی څنګه طالبان او اسلامی حزب لومړی را په خوله کړی، او بیا په حکومت کی ورته ونډه ورکړی. همدارنګه به اوس طالبانو او اسلامی حزب ته هم معلومه شوی وی چی زموږ د هیواد او ولس سخت دښمنان څوک دی او څه یی وکړل.

نو زما په نظر که افغانان خپلو مسؤلیتونو ته متوجی شی نو زموږ هیواد به هم له ۲۰۱۴م کال وروسته یو هیواد وی.

کوم شاعر ویی چی:

په تدبیر د که د بام سوری بند نه کړ<br>
دا تقدیر دی چی هغه کوټه به څاخی



افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ